مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۲۹مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۱مه | ٤٤٨مه ګڼه


# د افغان سولې په اړه تازه څرګندونې؛

## مارک ایسپر: افغانستان ته مې د راتګ موخه سیاسي جوړجاړي ته رسېدل دي



۳

## شینوارو ته د حکومتي مشرانو بیا بیا دروغ

۲ مخ

## د نړیوالو حقوقو له نظره؛ کُرد ملي مقاومت کوونکې ډله تروریستي ده او که آزادي غوښتونکې غورځنګ؟!

۲ مخ

## پر امریکایي شرایطو ولاړه بین الافغاني سوله او د طالبانو دریځ

۳ مخ

## هېواد

۴ مخ

### عمان

عمان د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د آسیا یو پرمختلونکی هېواد بلل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۵ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهیږي.



## د غزني د زرکشان د مسو او طلا کانونه داوطلبۍ ته سپارل کېږي



د کانونو او پټرولیم وزارت د غزني د زرکشان د مسو او طلا کانونه داوطلبۍ ته سپاري.

د دغه وزارت ویاند سیحون کامګار پرون ازادي راډیو ته وویل، لومړیتوب به هغه شرکت ته ورکړل شي چې لومړی اقدام وکړي. دی وایي: «پروسه داسې ده چې شرکتونه په داوطلبۍ کې ګډون کوي او تر ټولو غوره داوطلب سره مذاکرات او ورپسې قرارداد کېږي.»

د کانونو وزارت وایي، د غزني په زرکشان کان کې د ۳۰ میلیاردو ډالرو په ارزښت، د طلا او مسو زېرمې موجودې دي چې تر اوسه په مسلکي ډول نه دي ایستل شوې. د یاد وزارت په خبره، هڅه به یې دا وي چې په ښه او مسلکي ډول دغه کانونه را وباسي.

د دغه وزارت چارواکي وایي، دا خصوصي سکټور ته هم یو ښه فرصت دی، څو په دغه برخه کې پانګونه وکړي.

## یوناما: تېر کال پر عبادت کوونکو په بریدونو کې ۴۵۳ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو استازولۍ یا یوناما ویلي چې تېر کال پر عبادت کوونکو په بریدونو کې ۴۵۳ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

یوناما تېره ورځ په خپره کړې اعلامیه کې ویلي، په ۲۰۱۸ ز کال کې پر عبادت ځایونو، مذهبي مشرانو او عبادت کوونکو په تر سره شویو بریدونو کې ۱۵٦ ملکیان وژل شوي او ۲۹۷ نور ټپیان دي چې دا شمېره ۲۰۱۷ ز کال ته نږدې ده چې ۴۹۹ ملکیانو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې وه، یانې هغه مهال ۲۰۲ ملکیان وژل شوي وو او ۲۹۷ نور ټپیان شوي وو.

دا اعلامیه داسې مهال خپرېږي چې درې ورځې وړاندې د ننګرهار د هسکې مېنې په جودري سیمه کې د جمعې په لمانځه کې چاودنه کېږي او نږدې ۱۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله پکې اوړي. یوناما ویلي، موندنې یې ښیي چې په دې پېښه کې لږ تر لږه ٦۳ تنه وژل شوي او ۴٦ نور ملکیان ژوبل شوي دي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې تدامیچي یاماموتو ویلي، دغه ناوړه او بې موخې بریدونه چې ملکیان په نښه کوي، په هېڅ ډول نه شي توجیه کېدای.

هغه زیاته کړې: «هغه کسان چې د دغه برید د تر سره کېدو مسوولیت ولري، باید عدالت ته را کاږل شي او حساب کتاب ورسره وشي. پر لمانځه ولاړو خلکو دغه وحشیانه او بې احساسه بریدونه یو جنایت دی. د خلکو پر اجتماع او د عبادت پر ځایونو دغه ډول بریدونه کېدای شي جنګي جرمونه وبلل شي».

## کانونو وزارت د لسګونو سپارښتنو په عملي کولو کې پاتې راغلی دی

۵ مخ

## تیفا از تاخیر در اعلام نتایج ابتدایی انتخابات نگرانی کرده است




بنیاد انتخابات شفاف افغانستان، تاخیر در اعلام نتایج ابتدایی انتخابات ریاست جمهوری را ناشی از فشارهای سیاسی و ضعف مدیریت کمیسیون های انتخاباتی می داند و از این کمیسیون‌ها می خواهد که دلایل مستند را برای تاخیر نتیجهٔ ابتدایی انتخابات روشن سازند. قرار تقویم انتخاباتی، نتایج ابتدایی انتخابات ریاست جمهوری ششم میزان، به تاریخ ۲۷ این ماه و نتایج نهایی در ۱٦ عقرب اعلام می شد.

اما دو روز گذشته، کمیسیون انتخابات اعلام کرد که به دلیل تاخیر در روند انتقال معلومات دستگاه بایومتریک در سرور، نتایج انتخابات با تاخیر اعلام می شود. بنیاد انتخابات شفاف افغانستان یا تیفا، دیروز ۲۸ میزان طی اعلامیه نگرانی اش را از تاخیر در اعلام نتیجه ابتدایی انتخابات ریاست جمهوری روان ابراز داشته است. در اعلامیه آمده است که تیفا به عنوان نهاد ناظر ملی در یافته که تاخیر در اعلام نتیجه ابتدایی انتخابات ریاست جمهوری، ناشی از فشارهای سیاسی و ضعف در مدیریت برنامه های کمیسیون های انتخاباتی است. منبع افزوده است: «بنیاد انتخابات شفاف افغانستان، نگران است که این وضعیت می تواند نتیجه پایانی انتخابات را با مشکلات مواجه سازد، شک و تردیدها نسبت به شفافیت پروسه را بیشتر از پیش افزایش دهد و تاثیرگذار باشد».

همچنان، این کار نیز می تواند نتیجهٔ انتخابات که بنابر تاخیر در روندهای از قبل تعیین شده، زمینه را برای نپذیرفتن نتیجه انتخابات ریاست جمهوری برای تکت های انتخاباتی فراهم سازد، بی اعتمادی مردم را نسبت به پروسه انتخابات افزایش دهد و به شکل اتوماتیک، دیگر مراحل انتخاباتی مندرج در تقویم انتخاباتی را نیز بت تاخیر مواجه سازد.


if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دریــځ

## شینوارو ته د حکومتي مشرانو بیا بیا دروغ

په شینوارو کې له وروستي وحشیانه برید وروسته، یو ځل بیا حکومتي چارواکي ژمنه کوي چې هلته به د داعش پر ضد عملیات کوي او سیمه به امن کوي. پرون ولسمشر غني هسکې مېنې ته ورغلی و او هلته یې له خلکو سره بیا ژمنې کړې دي. هغه ویلي چې شوی برید یوه فاجعه وه، چې په وینا یې عاملین به یې ونیسو او جهنم ته به یې ولېږو. اشرف غني ویلي چې د شینوارو په شېږو ولسوالیو کې به د ابادۍ او د امنیت د ټینګښت لپاره کوټلی پروګرام جوړ کړي، چې ورسره به د داعش او طالبانو جړې له دغو ولسوالیو وباسي.

ایا له شینوارو سره کېدونکې ژمنې عملي کېږي؟ ایا د داعش او داعش ضد عملیاتو کې قرباني شوي شینواري به د ارامۍ ساه واخلي؟ ایا شینوارو ته امن ور ګرځي؟ ایا هغه ژمنې عملي کېږي چې یو ځل بیا له شینوارو سره وشوې؟

څلور کاله کېږي چې پر شینوارو داعشي بلا واکمنه ده، کله یې سپین ږیري پر بمونو الوځوي، کله یې ماشومان په زانګو کې په برچو وهي، کله یې په جومات کې ځانمرګی کوي، کله یې په واده او خوښۍ برید کوي او کله یې هم په هدیره او ښوونځي وحشي داعشیان ورځي او د بې ګناه شینوارو وینې او غوښې خوري. یوازې داعشیان نه دي، بلکې د داعش ضد جګړه کې هم شینواري ډېر قرباني شوي دي. د داعش پر ضد په ډراماتیکه جګړه کې د مظلومو شینوارو قرباني کمه نه ده. د بمونو مور د همدوی پر خاوره وکارول شوه، هر ډول وسلې هلته و ازمویل شوې، د دوی پر ځمکه او هوا لسګونه او سلګونه عملیات شوي، د دوی ښوونځي بمبار شوي، سپین ږیري او داعش ضد وسله وال یې له هوا په نښه شوي، د داعش په نامه یې پر کورونو چاپې اچول شوې، ښځې، ماشومان او نور بې ګناه وګړي یې شهیدان شوي دي. پر هغوی د داعش په نامه برید شوی چې د شپې یې اوبه لګولې، یا یې جلغوزي ټولول او یا یې هم سفر کاوه. له همدې امله د شینوارو مظلوم خلک هم د داعش په وحشتونو کې سوځېدلي او هم په هغو ډراماتیکو ګامونو کې چې د داعش پر ضد اخیستل شوي دي.

هر ځل چې وحشت شوی، غندل شوی، خواخوږي ښودل شوې، برید او چاودنه جنایت ګڼل شوې، له خلکو سره د امنیت، ثبات او بیارغونې په برخو کې د مرستې ژمنې شوې دي. هر ځل د داعش د نابودۍ ژمنه شوې، هر ځل ویل شوي چې نور به شینواري امن شي، خو ستونزې نه یوازې حل شوې نه دي، بلکې زیاتې شوې دي. اوس چې یو ځل بیا ولسمشر غني هسکې مېنې ته ورغلی او هلته یې له شینوارو سره ژمنې کړې دي، دا هم تشې هوایي خبرې دي. هسې د ولسمشر نږدې ټولې ژمنې هوایي خبرې او نه عملي کېدونکې وې، خو د شینوارو په شان له مظلومو خلکو سره کړې ژمنې خو نه پخوا پوره شوې او نه یې هم اوس د پوره کېدو شونتیا شته. ځینې ظاهري او سمبولیک کارونه به وشي، خو داعش به همغسې وحشتونه کوي او شینواري به له همداسې ظلمونو او ستونزو سره لاس او ګرېوان وي.

# د نړیوالو حقوقو له نظره؛ کُرد ملي مقاومت کوونکې ډله تروریستي ده او که آزادي غوښتونکی غورځنګ؟!

کرامت الله آریوبي

په نړیواله کچه د یو غورځنګ او یا نهضت پر رسمیت پېژندلو لپاره د دولتونو او نړیوالو سازمانونو مرستې ته اړتیا ده تر څو چې د دولتونو په حمایت او یا لږ تر لږه د خصومت په نه شتون یې وکولای شي خپل فعالیت ته ادامه ورکړي او وکولای شي په خپلو داخلي مبارزو کې بریا ترلاسه کړي؛ ځکه چې دا ډلې د اړوند دولت سره د خصومت په وجه اصولاً له ډول ډول ربړو، کړاوونو، بې کوره کېدو، فشار او تبعیض سره مخ وي او د هغوی لپاره تر ټولو مهمه دا ده چې مادي او معنوي ملاتړ یې وشي، تر څو وکولای شي خپلې اړتیاوې پوره کړي.

په بل عبارت دا غورځنګونه باید تر یوې اندازې د نړیوال مشروعیت څخه برخمن وي. د سیمه ییزو سازمانونو له لوري د اړوندو جنبشونو په رسمیت پېژندنه لکه د اروپا شورا، د امریکایي هېوادونو سازمان او یا اروپایي اتحادیې لخوا کېدلای شي د حقانیت او مشروعیت پله یې درنه کړي. حقوقپوهان په دې عقیده دي چې د دولتونو او یا نړیوالو سازمانونو له لوري د دا ډول غورځنګونو په رسمیت پېژندنه د دوی شخصیت پیدا کېدنې او یا نړیوال شخصیت تاییدۍ نښه ده.

کله چې د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلۍ کې د آزادي ښونکو غورځنګونو مسئله راپورته شوې، دې رکن همېشه هڅه کړې چې په دریو برخو کې( د استعمار سره په جګړه، د اجنبیانو له لوري د ځمکې اشغال او توکمیز تبعیض) د جنبشونو له لوري زور کارونه مشروع وښایي.

دا ښکاره ده چې د دغه ډول مبارزو اساس او بنسټ په حقیقت کې د ځینو نړیوالو مسلمو حقونو څخه سرچینه اخلي؛ لکه د استقلال لاسته راوړلو حق، د خودمختارۍ حق، د خپل سرنوشت د تعین حق چې د ملګرو ملتونو منشور په لومړۍ ماده، همداراز د سیاسي او مدني حقونو کنوانسیون په اوله ماده کې صراحتاً ذکر شوی دی.

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې هم په خپلو ډېرو پرېکړه لیکونو کې د خودمختارۍ، استعمار پر ضد د استقلال لاسته راوړنې پر اساس دا ډول جنبشونه هغه حرکتونه بللي چې د استعمار، نژادي تبعیض او د خپل سرنوشت ټاکلو په موخه مبارزه کوي. عمومي اسامبلې همداراز د غیرمتعهدو غورځنګو طرحه هم د استعمار یوغ پای ته رسولو او استقلال ته د ملتونو رسېدلو په منظور تصویب کړه. د دغه پرېکړه لیک تر تصویب وروسته ډېری هېوادونه د ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ز کلونو ترمنځ مستقل شول او په همدې کال (۱۹۷۰ز) کې دغه سازمان اعلان وکړ چې استعمار په هر ډول او د هر نوم لاندې جنایت دی او د منشور تخلف حسابېږي.

د عمومي اسامبلې ۲۹۱۸ ګڼې پرېکړه لیک هم همدا رویه تعقیب کړه او په ۱۹۷۳ ز کال کې یې رسماً اعلان وکړ چې: «قیام او مسلحانه اقدام، د آزادي بښونکو جنبشونو له لوري مشروع او موجه اقدام حسابیږي، ترڅو وکولای شي د استعماري او توکم پالونکو قدرتونو د شړلو په لار کوټلی ګام واخلي.» په ۱۹۷۶ ز کال کې د دغه سازمان ۳۱۳۴ نمبر پرېکړه لیک هم آزادي بښونکو غورځنګونو ته د زور کارونې اجازه ورکړه او په مقدمه کې یې راغلي چې دا پرېکړه د جنبشونو له لوري د مسلحانه مبارزې په شمول د هر ډول وسایلو او امکاناتو ګټې اخیستنې ملاتړ کوي چې د استعماري او اجنبي ځواکونو پر ضد یې کاروي.

د فلسطین په قضیه کې هم د عمومي اسامبلۍ له لوري پرېکړه لیکونه صادر شوي چې د هغې جملې څخه کولای شو د ۲۵۳۵، ۲۶۷۲، ۳۲۳۶ او... پر اساس د فلسطیني وګړو مبارزه د منشور او بشري حقونو نړیوالې اعلامیې په چوکاټ کې مبارزه مشروعیت ورکړی او تاکید یې کړی چې دوی ( فلسطینیان) کولای شي په هر حالت کې له هرې وسیلې د زور کارونې په شمول ګټه واخلي، ترڅو خپلو ملي موخو ته ورسېږي.

همداراز ملګرو ملتونو په ډېرېو مواردو کې له دولتونو غوښتي چې له دغه ډول غورځنګونو سره ټول مادي او معنوي کمکونه وکړي او په دې برخه کې له هېڅ ډول مرستې سپمونه ونه کړي. البته دا هڅه بې نتیجې هم پاتې نه شوه او په ۱۹۷۷ ز کال کې د یو ډیپلوماتیک کنفرانس په ترڅ کې د بشردوستانه حقوقو اړوند دوه پروتوکولونه تصویب شول چې یو یې د مسلحو ازادي غوښتونکو غورځنګونو اړوند و چې د خپل سرنوشت تعین حق لاسته راوړلو په موخه مبارزه کوي.

د پورتني پروتوکول تصویب د درېیمې نړۍ هېوادونو په ځانګړي ډول آزادي غوښتونکو غورځنګونو لپاره مهمه لاسته راوړنه بلل کېدای شي؛ ځکه چې د غربي نړۍ له جدي مخالفت سره سره، د درېیمې نړۍ په بیا بیا غوښتنو بالاخره دا پروتوکول تصویب شو. سربېره پر دې دا ډول غورځنګونه د نړیوالو ډلو په عنوان چې د جنګ حقوقو مشمول کېږي، په رسمیت وپېژندل شول.

په پایله کې ویلای شو چې په نړیوال سټېج کې د دغو غورځنګونو ځای تثبیت او د موفقیت د تحقق لپاره دوه عامله په نظر کې ونیسو، ۱- د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلۍ او تخصصي نهادونو کې د ملي مقاومت کوونکو غورځنګونو ناظر عضویت امکان ۲- په بین المللي مخاصماتو کې د سرنوشت تعین حق په اړه د ملي مقاومت کوونکو جنبشونو په رسمیت پېژندل.

د تروریزم په اړه بېلابېل تعریفونه شوي دي چې دا په خپله د دې ښکارندویي کوي، چې دولتونه د دې پدیدې په پېژندګلوۍ او ارزونې کې د نظر اختلاف لري. د نړیوالو حقوقو انجمن له انده تروریزم، د افرادو، سازمانونو، ځایونو او د نړیوالو حمایت لرونکو حمل او نقل وسایلو پر ضد هر ډول انفرادي او ډله ییز تهدید دی چې د دولت په داخل او یا بهر کې صورت نیسي.

واقعیت دا دی چې د تروریزم او او آزادي ښونکو جنبشونو ترمنځ ورته والی او توپیرونه ترسترګو کېږي. د ساري په توګه د خشونت کارول او د سیاسي انګېزې شتون په دواړو هغو کې مشترکه وجه ده، لېکن په حقیقت کې دا دواړه اقدامونه د انګېزې له پلوه د فعل په ترسره کولو کې سره توپیر لري، هغه مبارزین چې د استقلال لاسته راوړلو په موخه هڅه کوي، له هغو ډلو سره توپیر لري چې د ترور او وحشت ایجاد په موخه هېڅ ډول اخلاقي او انساني اصولو ته غاړه نه ږدي. تروریست هغه څوک دی چې بین المللي بشردوستانه قواعدو ته په نه پام جنایتونه ترسره کوي، دا په داسې حال کې ده چې د ملي مقاومت کوونکو جنبشونو اصلي موخه آزادۍ ته رسېدنه او د استعماري رژیم سرکوب دی.

ملي مقاومت کوونکي جنبشونه د خپلو ملي غوښتنو په وجه د پراخ داخلي حمایت څخه برخمن دي او په حقیقت کې د خلکو پراخ ملاتړ له ځان سره لري. په بل عبارت د آزادۍ غوښتونکو غورځنګونو په اصل کې مبارزه مسلحانه او سازمان شوې ده چې د جنګي عملیاتو نه یې موخه د اشغالګرو ځواکونو ته زیان اړول دي او په پایله کې یې هېواد آزاد شي.

همداراز د یادولو ده چې د سرنوشت تعین حق د ازادی غوښتونکو غورځنګونو انحصاري او مسلم حق دی او د زور کارونې مشروعیت هم له همدې حقه سرچینه اخلي. په دې دلیل چې د خپلو وګړو په استازیتوب په دا ډول اعمالو لاس پورې کوي. لېکن کومې مبارزې چې د مقاومت په عنوان ترسره کېږي، باید اشغالګر په نښه کړي؛ ځکه چې د نړیوالو قوانینو پر بنسټ دا ډول غورځنګونه کولای شي په بهر کې هم د اشغالي دولت موخې په نښه کړي. دا په داسې حال کې ده چې تروریستي ډلې هېڅ ډول نړیوالو توافقاتو ته ژمنې نه دي او د خپلو موخو په لار کې له هر ډول عملیاتو څخه کار اخلي؛ حتی د ملکي او غیرنظامي وګړو پر ځان، مال او ناموس تجاوز باندې هم بسنه نه کوي.

د آزادۍ غوښتونکو غورځنګونو حقوقي وضعیت د ژنیو(۱۹۴۹ز) څلورګونو کنوانسیونونو په لومړي نمبر پروتوکول کې پېشبیني شوی چې د نړیوالو حقوقو تابعان دي او کولای شي د حق او تکلیف طرف وګرځي، دویم دا چې د دوی له لوري د زور کارونه تروریستي اعمال نه دي، درېیم دا چې د دوی مسلحانه مبارزه د نړیوالو مخاصماتو له ډلې ده؛ ځکه خو د جنګ حقوقي قواعدو اصولو تابع دي. همدا علت دی چې که د دغو نهادونو غړي ونیول شي، جنګي اسیر حسابېږي او د نوموړي کنوانسیون حقوقي قواعد پرې حاکم دي. دا په داسې حال کې چې په تروریستي ډلو هېڅکله دا شرایط او حالات حاکم نه دي. د یادونې ده چې د تروریستي اعمالو او ملي آزادي بښونکو جنبشونو د فعالیت بېلوالي لپاره په نړیواله کچه اولین تړون په ۱۹۸۸ ز کال کې د عرب اتحادیې له لوري رامنځته شو. د دغه کنوانسیون په مقدمه او دویمه ماده کې په صراحت وایي چې: «د تروریزم پر ضد مبارزه چې یوه شومه پدیده ده، هېڅکله باید د ملي مقاومت کوونکو او آزادۍ غوښتونکو غورځنګونو د اقداماتو مانع ونه وګرځي چې د سرنوشت تعین حق په منظور د نړیوالو حقوقو په چوکاټ کې وي».

کردانو د تاریخ په اوږدو کې کوچیاني ژوند درلود او د بین النهرین په هوارو سیمو کې په مالدارۍ بوخت وو. کردان اوس یوه ځانګړې ټولنه ده چې د نژاد، کلتور او ژبې له پلوه واحده ډله ده، اکثریت یې سني مسلمانان دي، خو یو شمېر نور مذهبونه او عقیدې هم لري. د دوی ټول نفوس تر ۳۰ میلیونو اوړي او په ترکیه، سوریه، ایران، عراق او ارمنستان کې مېشت دي. کردان په منځني ختیځ کې څلورمه ستره نژادي ډله ده چې رسمي دولت نه لري.

کردانو غوښتل په ۲۰ مه پېړۍ کې د کردستان په نوم دولت جوړ کړي او له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته یې متحدینو هم په ۱۹۲۰ ز کال کې پرېکړه وکړه چې د کردانو لپاره دولت جوړ شي، خو په لوزان تړون چې په ترڅ کې یې ترکیه د عثماني امپراتورۍ ځایناستې شوه، د دوی موضوع یاده نه شوه. له هغې وروسته دوی په تېرو ۱۰۰ کلونو کې بې رحمه وځپل شول. کله چې په ۲۰۱۳ ز کال کې داعش د سورېې په شمال کې د کردي سیمو د نیولو هڅه وکړه، دوی یې پر ضد راپاڅېدل او د تېر کال په اخرو کې یې د اسلامي دولت غړي په شا و تمبول شول او کردان وتوانېدل چې بېرته خپلې سیمې ترلاسه کړي. د ترکیې ۲۰ سلنه نفوس کردان جوړوي، ترکي واکمنو له دې خلکو سره ډېر بد چلن کړی او پاڅونونه یې ورته تیت او پرک کړي. په ترکیه کې د همدغه پروګرام له مخې کردي نومونه او دودونه منع شول، د کردي ژبې کارول محدود شول او حتی د کردانو له توکمیز هویت څخه انکار وشو. په ۱۹۷۸ ز کال کې عبدالله اوجالان د pkk ګوند بنسټ کېښود. شپږ کاله وروسته یې په وسله والې مبارزې پیل وکړ. له هغې راهیسې شاوخوا ۴۰۰۰۰ کردیان وژل شوي او په سلګونو زره یې بېځایه شوي دي. انقره سره له دې چې داعش ډله ځانته خطر ګڼي، خو په عین حال کې وېرېږي چې ترکي کردان سورېې ته ورتېر شي او له هغه ځایه د هغه ځای کردي جنګیالیو سره په ګډه چې د پي کې کې یو ښاخ دی، ترکي موخې په نښه کړي.

همداراز د سورېې دولت هڅه کوي چې د کردانو اعتراضونه وځپي، مشران یې ونیسي او له اساسي انساني حقونو څخه یې محروم ساتلي دي. د سورېې دولت دا هڅه کوي چې د خپلواکۍ غوښتنې یې محدودې کړي.

په عراق کې هم کردان د ټول نفوس شاوخوا ۲۰ سلنه جوړوي. دلته هم د تاریخ په دوران کې له بېلابېلو ربړو سره مخ شوي دي. په ۱۹۷۰ ز کال کې دوی په سیستماتیک ډول له کرکوک ښار څخه وشړل شول، په ۱۹۸۸ ز کال کې صدام حسین پر عراقي کردانو بې رحمه بریدونه وکړل او حتی هایدروجني ګازونه یې پرې وکارول.

سره له دې چې په سوریه، عراق او ترکیه کې کردان له ډول ډول کړاوونو سره مخ دي، د هر ډول توطیو ښکار شوي، خو دوی تر اوسه هېڅ ډول فشار ته نه دي تسلیم شوي او تل یې د خپل سرنوشت تعین حق غوښتلو غږ پورته کړی. استعمار به هڅه کوي چې رسا غږونه یې چوپ کړي، د تروریستي ډلو نوم ورکړي، خو د نړیوالو حقوقو له مخې، دوی حق لري چې د خپل سرنوشت ټاکلو حق ته رسېدلو او د استعمار ځپلو په موخه هر ډول مبارزه وکړي، حتی کولای شي مسلحانه مبارزه وکړي. د دوی مبارزه د ملي آزادي بښونکي غورځنګ په توګه د نړیوالو حقوقو سره په تطابق کې ده او په نړیواله کچه د ځانګړي حقوقي اعتبار او حیثیت درلودونکې ده.

# پر امریکایي شرایطو ولاړه بین الافغاني سوله او د طالبانو دریځ

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

وروسته له هغه چې امریکایي ولسمشر ټرمپ د دوی او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو لړۍ وځنډوله، طالبانو د موجود ذهنیت د ماتولو په موخه، د امریکا مخالفو پلازمېنو مسکو، بیجېنگ، تهران او تازه اسلام اباد ته سفرونه وکړل.

د دوی د سفرونو پایله د دغو هېوادونو له لوري د افغان سولې ملاتړ، د بهرنیو پوځیانو وتل او په ټوله کې د بین الافغاني مذاکراتو پر پیلېدو ټینگار و.

په دغه جریان کې وروسته له هغه چې د طالبانو او امریکایي اړخ ترمنځ مذاکرات ودرېدل، د امریکایي لوري د سولې قرائت هم تغیر کړی او له افغان حکومت سره د طالبانو د معاملې بحث پر امریکایي شرایطو د امریکایي نظامي او سیاسي ویاندویانو تازه رجزونه گرځېدلي، ځکه کله چې امریکایانو په دوحه کې د سیاست پر میز د خپل استعماري عادت خلاف ډېر څه له لاسه ورکړي او بایللي ولیدل، نو د یوه امریکایي عسکر د وژل کېدلو په پلمه یې هر څه صفر ته راکښته کړل او یوځل بیا یې د ۲۰۰۱ ز کال په څېر د جگړې او تسلیمۍ اعلانونه وکړل.

**پر امریکایي شرایطو متکي بین الافغاني سوله څه ده؟**

د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د امریکا ـ افغان جگړې د پایته رسېدلو اړوند، د دوحې د خبرو اترو له درېدو سره سم افغان حکومت دغه بگټۍ غړول لا پسې چابک کړل، چې یوازې بین الافغاني مذاکرات د امریکا په کفالت د افغان حکومت په محور سره، چې جمهوریت او بې تعریفه ډیموکراسي یې سرې کرښې دي، مونږ یوې نسبي سولې ته رسولی شي.

دوی د دې لپاره د ټولو لوېدیځو سفارتونو دروازې وټکولې، په امریکا کې یې افغان سفارت ته د لابي په موخه پیسې واستولې او په کور دننه یې یوځل بیا د جگړو، وحشتونو، افغان وژنو، مرگونو او وینو کمپاین پیل کړ.

اوس پر دې بین الافغاني سولې د ټینگار اړوند د ډاکتر غني موخه او د امریکا پروژه څه ده؟ طالبانو او افغان ولس ته به ترې څه رسېږي؟ مونږ د ډاکتر غني د خبرو له څرنگوالي څخه دغه موخه درک کولای شو.

زما په نظر د حکومت او امریکا بین الافغاني سوله امریکایي او مطلقاً د تسلیمۍ پر شرایطو ولاړه ده.

د بېلگې په توگه، غني فکر کوي چې له طالبانو سره به لکه د حزب اسلامي په فورمول سوله وکړي، په دې سره به امریکا خپل استعماري شتون برحق، د حکومت موقف به مشروع او د طالب مبارزه به نامشروع، یاغي گري او یوازې د افغانانو د وژلو پروژه وگرځوي.

د دې پایله به د ډاکتر غني لپاره د خپل حاکمیت دوام، د امریکا د پوځي شتون برلاسي او د طالبانو انشعاب، ټوټه کېدلو او مسخه کېدلو ته رسماً زمینه برابره کړي.

دا ځکه غني پوهېږي چې له سولې وروسته په افغانستان کې د سیاست کول څه چې د یوه عادي افغان په توگه د ژوند کولو خیال هم ورته محال ښکاري. ځکه خو دی هم د جمهوریت د دفاع په هنگامه کې غواړي چې یوځل بیا خپل مقام، د ولس لخوا بایکاټ شویو او په ټوله کې له درغلۍ او پراډ څخه ډکو ټاکنو له لارې تر لاسه کړي.

هغه چې د نوموړي په اصطلاح که په دغو ټاکنو کې یوازې هم پاتې شي او یو افغان هم پکې برخه وانه خلي؛ دی به ټاکنې وکړي او برخه به پکې اخلي.

په داسې حال کې به غني او امریکا په لاس بري دریځ کې وي، بل پلو به مات مات او په کمزوري دریځ کې گیر طالب د دوی په دام او پراډ کې بند پاتې وي، ملي پلویتوب به یې بایللی وی، ولس ته به مخ نه لري، غني به قدرت، ثروت، مشروعیت او د امریکا ملاتړ لري. په داسې یوه وضعیت کې به طالبان په یوه محور د راټولیدو هېڅ ډول رهبریت او د دریځ نیولو وس ونه شي لرلای، داسې مهال به امریکا د غني د خوښې خپل یو بل ملگری واک ته د ولسمشر په نوم ورسوي او طالبان به له هغه سره په دغسې یوه وضعیت کې د سیالۍ هېڅ امکان ونه لري. له دې سره به هغه طالبان چې ۴۸ هېوادونو په هېڅ وسله، وسیله او فریب سره مات نه کړل، په یوې حیلې سره به مات او مسخه شي.

امریکایان او په واک کې حکومت به یې د تبلیغاتو او پروپاگنډۍ له لارې پاتې محبوبیت هم ورختم کړي او دا به زموږ پر ملي او د امت پر سیاسي تاریخ کې د اشغال، بلواکو، پردیپالو او ورځچارو یوه داسې بېساري بریا وي، چې نور به هېڅ ملتپاله، آزادي غوښتونکي، پر ملي ارادو باورمند او خپلواک مزاجه خوځښت او انسان به د دوی پر وړاندې کله هم سر جگ نه کړي.

**د طالبانو دریځ او کورنۍ دنده**

په دې ټولو کې جالب ټکی دا دی چې اوس شرایطو ډېر بدلون کړی، خپله امریکایان جگړه حللاره نه گڼي، د سیمې او نړۍ هیوادونه د امریکا پر نیت او ماموریت شکمن دي، هغوی چې په افغانستان د امریکا د یرغل اسانچاري او مدافعان وو، اوس یې د وتلو په داعیه کې ولاړ دي، خپله په امریکا کې عادي امریکایان نور چمتو نه دي چې خپل زامن یوې پر حتمي ماتې ولاړې د تباهۍ کندې ته واچوي، په کور دننه خو سوله د ټولو افغانانو د خولې پر ورځنې شعار او دعا اوښتې ده، هغه سیاستوال او پخواني چارواکي چې یو وخت د امریکا د شتون ټینگ ملاتړي وو، اوس د سولې مخکښ فعالان گرځېدلي او په ټوله کې له ډاکتر غني او خو د گټو له یارانو څخه چې له نوموړي سره له خوکۍ او موقف پرته نور هېڅ مشترکات نه لري، هر څه زمان او زمین د سولې د راتگ او د بهرنیانو د وتلو غوښتونکي دي.

په داسې شرایطو کې طالبان باید پر خپل ملي، ولسي او تاریخي دریځ ټینگ ودرېږي، له ولس سره له وروستي تساهل څخه کار واخلي، کوښښ وکړي څو هغه ځایونه چې ډېرو عامو افغانانو ته پکې زیان رسېږي، خپل نظامي اهداف ونه گرځوي، په خپله ډیپلوماسۍ کې د امریکا د سنتي مخالفانو تر څنگ، له خپلو مخالفینو لکه هند چې تل د طالب ضد جبهه کې پاتې شوی، اړیکې نږدې کړي او د هند له ستراتیژیکو گټو او دریځونو سره د سازش ډاډ ورکړي. همدارنگه له ولس او د ولس په منځ کې له هغو سیاستوالو، مخورو او فعالانو سره کار وکړي چې کولای شي ولس د امریکا خلاف جبهه کې یو موټی کړي، سولې ته ولسي چوکاټ جوړ کړي او د خپلو مدني لاریونونو، اعتراضونو او فشارونو له لارې نړۍ او د یرغلگرو هېوادونو ولسونو ته وښایي چې طالبان د افغان ولس برخه دي او دوی له سیاسي بهیره لرې کول تاریخي جفا ده. طالبان اوس هم په هغو سیمو کې چې د دوی تسلط دی، د حکومتي ادارو په څېر دعام ولس د ژوند پروا نه لري، دغه ډول چلن دوی هم په ولس کې د تېر ځل په څېر منزوي کوي. دوی باید دې ستونزې ته جدي پام وکړي.

په پای کې باید پر دې وپوهېږو چې بهرنیان به بالاخره له هېواده وځي، که نن نه وي سبا ته به مجبورېږي چې ووځي، د دوی له وتلو سره به یې لاسپوځي د ولس رحم او کرم ته پاتې وي، ځکه خو ټولو افغانانو ته پکار دي چې د خپل هېواد د برخلیک په باب مسووولانه فکر وکړي او مسووولانه گام واخلي.

# د افغان سولې په اړه تازه څرگندونې؛

## مارک ایسپر: افغانستان ته مې د راتگ موخه سیاسي جوړجاړي ته رسېدل دي



د امریکا دفاع وزیر پرون په یوه نا اعلان شوي سفر کابل ته راغلی دی. رسنۍ وایي، د مارک ایسپر د سفر موخه دا ده چې په افغانستان کې د روانې جگړې پای ته یو جوړجاړی رامنځ ته کړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې څو ورځې وړاندې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هم ویلي وو چې د سیاسي جوړجاړي له لارې د افغان جگړې پای ته رسېدو ته هیله من دی. پرون دوو امریکایي سناتورانو بیا ویلي وو، چې لا هم په افغانستان کې د خبرو له لارې د روانې جگړې د پای ته رسېدو لپاره هیله مندي شته ده.

پرون د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر په یوه نا اعلان شوي سفر افغانستان ته راغلی دی. د هغه د سفر په اړه مخکېنۍ راپور نه و ورکړل شوی او نه هم افغان چارواکي په جریان کې وو. کابل ته له رسېدو سره سم امریکایي رسنیو وویل چې مارک ایسپر په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د حضور، اوسني وضعیت او راتلونکي په اړه ارزونه کوي. د سرچینو په وینا، امریکا غواړي خپل ځواکونه په افغانستان کې راکم کړي، نو ځکه د پنټاگون مشر غواړي هر څه له نږدې وڅاري.

بلخوا د امریکا دفاع وزیر بیا له اسوشیټېډ پرېس سره په خبرو کې ویلي چې افغانستان ته یې د سفر موخه د روانې جگړې د پای لپاره د جوړجاړي پیدا کول دي. ایسپر هغو خبریالانو ته چې له ده سره افغانستان ته راغلي، ویلي، هدف دا دی چې د سولې یو تړون وشي او له سیاسي لارو روانه جگړه پای ومومي. هغه زیاته کړې، کابل ته راغلی ترڅو یوه داسې سیاسي جوړجاړي ته لار پرانیزي چې د وړاندې تگ لپاره تر ټولو غوره لار وي.

اسوشیټېډ پرېس بیا وایي، مارک ایسپر په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د وضعیت ارزونه کوي. د امریکا دفاع وزیر باوري دی چې ۸٦۰۰ امریکایي ځواکونه کولی شي په افغانستان کې روان ماموریت په سمه توگه مخ ته یوسي، نو ځکه باید د عسکرو کچه یادې شمېرې ته راښکته کړل شي. نوموړی غواړي له دې اړخه هم ځان ډاډمن کړي چې د سرتېرو کمول د دوی پر ماموریت منفي اغېز نه شي کولی. مارک ایسپر پر دې هم ټینگار کړی چې له طالبانو سره د سولې تړون تر رامنځ ته کېدو وروسته به د خپلو سرتېرو شمېر کموي.

تر دې وړاندې بیا د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هم ویلي وو چې له سیاسي لارو د افغان جگړې پای ته رسولو ته ژمن دي. د ده په باور، لا هم هڅه کېږي چې سیاسي جوړجاړی رامنځ ته شي او په دې توگه په افغانستان کې د امریکا تر ټولو اوږده او خونړۍ جگړه پای ته ورسول شي. هغه د امریکا د پوځ له لوی درستیز سره هم کتلي وو او غوښتنه یې ترې کړې وه چې په افغانستان کې د تاوتریخوالي په کمولو کې خپله هڅه وکړي. د خلیلزاد په وینا، امریکایي پوځ په افغانستان کې د جگړې پای ته رسېدو لپاره کوښښ کوي.

بلخوا پرون بیا د امریکا د کانگرېس دوو غړو چې په وروستیو کې یې افغانستان ته سفر کړی و، د امریکا د سولې انستیتیوت کې د خبرو پر مهال ویلي چې په افغانستان کې لا هم له سیاسي لارو د جگړې د پای ته رسولو امکان او خوشبیني شته ده. دوی ویلي وو، چې لا هم امریکا او طالبان کولی شي د سولې مذاکرات پیل کړي او افغان جگړې ته د پای ټکی کېږدي. طالبانو هم په ځلونو ویلي چې که امریکا وغواړي دوی تیار دي چې د سولې په ټپه درېدلې خبرې ورسره له سره پیل کړي.

وروسته له هغې چې ټرمپ له طالبانو سره د سولې خبرې لغوه کړې، دا د لوړپوړو امریکایي چارواکو له لوري د سولې د خبرو د احتمالي پیل په اړه تازه پرمختگونه دي، خو لا هم امریکا او طالبانو په واضح توگه نه دي ویلي چې بیا به د دوی ترمنځ خبرې پیلېږي او که نه.

# اردوغان: که کُرد ملېشې د سوریې له شماله ونه وځي، وبه ځپل شي

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د سوریې په شمال کې کرد ملېشو ته خبرداری ورکړی، چې که له خوندي سیمې ونه وځي، نو ککرۍ به یې وځپل شي.

دا په داسې حال کې ده چې د ترکیې حکومت تېره اونۍ له یوه لوړ رتبه امریکایي پلاوي سره چې د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ د مرستیال په مشرۍ انقرې ته تللی و، د سوریې په شمال کې پر اوربند موافقه وکړه.

د امریکا مرستیال ولسمشر مایک پېنس د اکتوبر په ۱۷مه، په انقره کې خبریالانو ته وویل چې ترکیې موافقه وکړه چې ۱۲۰ ساعته د سوریې په شمال کې پوځي عملیات ودروي، څو کرد ملېشه ځواکونه د سوریې پولې ته نږدې له امن سیمې ووځي.

خو د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان په ټلوېزیوني وینا کې ویلي، که د وتلو پروسه د اکتوبر تر ۲۲مې بشپړه نه شي، عملیات به له هغه ځایه چې درول شوي وو، بیا پیل کړي.

اردوغان ویلي: «که پلان کار وکړ، نو ښه؛ که یې کار ونه کړ، په هغه دقیقه چې ۱۲۰ ساعته پوره شول، موږ به له کومه ځایه چې دریدلي وو، عملیات پیل کړو او د ترورېستانو د ککریو ځپلو ته به دوام ورکړو».

د ترکیې حکومت هغو کردانو ته چې د سوریې په شمالي سیمو کې یې د اسلامي دولت یا داعش پر ضد په عملیاتو کې له امریکا سره همکاري کوله، د ترورېستانو په سترگه گوري.

د ترکیې ولسمشر زیاته کړې چې راتلونکې اونۍ به د روسیې له ولسمشر ولادیمیر پوتین سره په لیدنه کې د نوې خوندي سیمې په اړه بحث وکړي. ترکیه غواړي چې له سوریې تښتېدلي کډوال، بېرته خپل هېواد ته ستانه او په دغه سیمه کې یې ځای پر ځای کړي.

د یادونې ده چې اردوغان به د اکتوبر په ۲۲مه، د روسیې په سوچي ښار کې له پوتین سره وگوري.

د راپورونو له مخې، د سوریې په شمال کې د اوربند له موافقې سره هم د سوریې هغو جنگیالیو چې ترکیه یې ملاتړ کوي، له کردي ځواکونو سره نښتې کړې دي.

دواړو خواوو پر یوه او بل تور پورې کړی چې له اوربند څخه یې سرغړونه کړې ده.

د ترکیې دفاع وزارت پر کرد ځواکونو تور پورې کړی چې ۱۴ بریدونه او نور پاروونکي کارونه یې کړي دي.

ترکیې ویلي چې د اسلامي دولت یا داعش په غړیتوب ۱۴ تورن کسان یې هم نیولي چې د هغوی په خبره، د سوریې په شمال کې د داعش د وسله والو له یوه بنده تښتېدلي وو.

په لندن کې د سوریې د بشري حقونو د څار اداري ویلي چې له ملاتړه برخمن ځواکونه د سوریې خاورې ته ور اوښتي وو او د کردانو د ښارگوټي شاکریه پر لور یې پرمختگ کړی دی.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### شپږم څپرکی
### پښتونخوا د ترهگرۍ په لومه کې




د فبروري د یوه ماښام خوشالي چاودنې په خپگان واړوله. پښتون سیاستوال افراسیاب خټک د چاودنې د پارچو له وېرې له چاودنې سره سم پر سر لاسونه ونیول. د برنډې له سره د خښتو ټوټې را ولوېدې، هر لور دودونه پورته شول. د خټک یوه ملگري له وېرې ور غږ کړل: ((تاسو ښه یاست؟))

خټک د حجرې په برنډه له نورو غونډو ملگرو سره وژغورل شو. شېبې وړاندې خوښي، دا مهال له هر لوري د ژوبلو کسانو د مرستې غوښتنه پر غږونو بدله شوه. د انسانانو نیم بدنونه پر ځمکه پراته وو، د مړو غوښې پر دېوالونو نښتې وې.

خټک پر هماغه مهال د ۲۰۰۸ز کال د فبروري اتمې پر ماښام خاموش و. په ځانمرگي برید کې پنځه ویشت کسان ووژل شول او یو شمېر نور ژوبل شول. ټول کسان ځایي پښتانه وو، هغوی په دې حجره کې د عوامي نېشنل گوند د مشـرانو خبرو ته ور ټول شوي وو. خټک د یوه منځلاري گوند مشـري کوله چې پکې د شمال لوېدیځ سرحدي ولایت نوم هم ومنل شو. له هغه ماښام مخکې، مازدیگر مهال، خټک د پېښور درې په یوه کلي کې د دودیز ملاتړ لپاره تللی و. دې گوند له خلکو سره د هغوی د رایو په بدل کې د قدرت پر مهال د سولې ژمنه کړې وه.

شپږ فوټه تنه لړونکی خټک له نورو ځانگړی ښکاري. ساده رمنځ شوي وېښتان، نرې برېتونه، بورې سترگې، له څېرې جدي خو ورین تندی لرونکی خټک د تېر وخت د یوه اکاډمیک شخصیت په څېر ښکاري. له هغه سره له تېرو پنځلسو کلونو پېژنم، د هغه پراخه پوهه او کره خبرې هر څوک جذبوي.

خټک له نوښت ډک ژوند لري، هېڅکله یې په پټو سترگو کوم څه منلي نه دي. د نورو امتیاز لرونکو او فیوډالو سیاستوالو په پرتله خټک په یوه بې وزله کلیواله پښتنه کورنۍ کې زېږېدلی دی. هغه په ۱۹٦۰ز لسیزه کې د یوه تنکي ځوان په توگه په قبایلي وزیرستان کې ژوند کړی، هغه مهال یې یوه کاکا چې په سرحدي ځواک کې یې دنده لرله، د هغه د ښوونځی لگښتونه ورکول. راتلونکې لسیزه د زده کوونکو د ټولنې د مشـر په توگه هغه د پښتنې ټولنې د عصري کولو له هڅو سره راڅرگند شو. د نورو پښتنو مشـرانو په څېر خټک هم له برېټانوي استعمار پاتې شوی، نوموړي وروسته پاتې ټولنې ته د پرمختگ او بدلون لارې د شوروي اتحاد په موډل کې لټولې. دا ډول اند ته اسلاماباد د شک په سترگه کتل او له مسکو څخه په اندېښنه کې و.

تر هغې وړاندې چې خټک په ۱۹۷۰ز لسیزه کې د یوه ځوان سیاستوال په توگه را پورته شو، په تېرو لسیزو کې هم پښتنو مشـرانو د پاکستان په ولسواکۍ کې اړین رول لوبولی دی. هغوی په ۱۹۵۷ز کال د نېشنل عوامي گوند بنسټ کېښود. د یوه بنگالي عالم، مولانا عبدالحمید خان بهشاني تر مشـرۍ لاندې، دا گوند د کیڼ اړخو، قومپالو او ملت پالو ډلو د یووالي په ترڅ کې جوړ شو. د دې گوند وفادار او خواریکښ پښتانه اړین مشـران عبدالغفار خان او عبدالصمد خان اڅکزي وو.

دا پښتانه مشـران له سینډیانو، بلوڅو او بنگالي ملت پالو سره د حکومت د مرکزیت محوره پالیسیو پر ضد سره یو ځای شول. د دې ډول پالیسیو په پایله کې اسلام د یووالي د هویت په توگه، اردو ژبه او له هند څخه د مسلمانو راکډه کېدو کلتوري سمبولونه، راڅرگند شول. پښتنو مشـرانو دې ډول پالیسیو ته د تبعیض په سترگه کتل چې گواکي په ترڅ کې یې د هغوی د پېړیو زوړ هویت، تاریخ او کلتور تر پښو لاندې کېږي.

نېشنل عوامي گوند د ملکي او نظامي ادارې له لوري د پښتنو څنگ ته کېدل د پنجاب ولایت هڅې بللې او فکر یې کاوه چې هغوی د نوي حکومت په اډانه کې په دې کار سره ډېر قدرت غواړي. دې گوند تل د زورواکۍ پر ضد خو د ولسواکۍ او سېکولرېزم په ملاتړ مبارزه کړې ده. هغوی د ټولو قومونو تر منځ د برابرۍ او مساوي حقونو غږ پورته کړی. د پنجابیانو پر اقتصادي او سیاسي انحصار یې هم نیوکې کولې. په نړیواله کچه عوامي نېشنل گوند ته د امپریالېستي ضد گوند په سترگه کتل کېدل چې تل یې له واشنگټن سره د اسلاماباد پر ملگرتیا نیوکې کولې.

په ۱۹٦۷ز کال دا گوند هغه مهال له ټوټه کېدو سره مخ شو چې چین او شوروي اتحاد کمونېستي نړۍ د خپلو گټو پر محور پر دوو برخو ووېشله. بهشاني د پاکستان په پخواني ختیځ کې د چین ملاتړې ډله او د عبدالغفار خان زوی، عبدالولي خان په لوېدیځ پاکستان کې د شوروي اتحاد ملاتړې ډلې په غاړه واخیستل. کله چې په ۱۹۷۱ز کال بنگلدېش له پاکستان جلا شو، دا مهال عبدالولي خان د ذوالفقار علي بوټو د حکومت پر وړاندې د یواځیني او کلیدي اپوزیسیون په توگه په نوي پاکستان کې مطرح شو. د پښتنو او بلوڅو په سیمو کې د ۱۹۷۰ز لسیزې په ټاکنو کې د نېشنل عوامي گوند بریالي کېدو یاد گوند پیاوړی کړ. هغوی له دېوبندي جمعیت علماء اسلام سره اتحاد وکړ او په ۱۹۷۲ز کال یې په بلوچستان او شمال لوېدیځ سرحدي ولایتونو کې گډې ځایي اداري جوړې کړې. د بلوچستان واک په ۱۹۷۳ز کال ترې واخیستل شو چې په ترڅ کې یې په شمال لوېدیځ سرحدي ولایت کې لاریونونه پیل شول.

**دوام لري...**

# عمان

حشمت الله نوري



عمان د آسیا په جنوب لوېدیځه برخه کې د عربستان ټاپووزمې په ختیځه څنډه او د فارس یا عربي خلیج په منځ کې د شمالي عرض البلدونو د ۱۵ او ۲٦ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۵۵ او ٦۵ درجو تر مینځ موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۱۹۲۳۵۵ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۸۴یم لوی هېواد دی.

د دغه هېواد شمال ته د عمان خلیج، جنوب ته یې عربي متحده امارات او شمالي فجیره، ختیځ ته یې د عمان خلیج او لوېدیځ ته یې عربي متحده امارات پراته دي.

د عمان پلازمېنه د مسقط ښار دی او ټولټال د دغه هېواد نفوس څه کم پنځو میلیونو کسانو ته رسېږي، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې لس کسان ژوند کوي.

د دغه هېواد ۳۰ سلنه وگړي په ښارونو او پاتې ۷۰ سلنه یې په کلیو او بانډو کې ژوند کوي.

د عمان د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.

دغه هېواد د اداري وېش له پلوه پر پنځو برخو وېشل شوی دی. مسقط، برکا، ایبري، الوهار، اسواق او جمیل د دغه هېواد لوی او مهم ښارونه دي.

د عمان د حکومت ډول مطلقه پاچایي ده، دغه هېواد د ۱۹۹٦ ز کال تر نومبر میاشتې پورې اساسي قانون نه درلود او هېواد د سلطان قابوس د ۱۹۷٦ ز کال د ۲٦مې گڼې فرمان له مخې اداره کېده. په دغه فرمان کې د عمان د وزارتونو او دولتي واک په اړه احکام راغلي وو. د دغه هېواد اوسنی اساسي قانون اووه فصله او ۸۱ مادې لري. د دې قانون له مخې، پاچایي په عمان کې میراثي ده. د عمان پاچا سلطان قابوس د دغه هېواد مطلق واکمن دی، نوموړی په پاچایۍ سربېره، د هېواد لومړی وزیر، د وسله والو پوځونو قوماندان، د دفاع وزیر، د شتمنیو او اقتصادي چارو وزیر، د بهرنیو چارو وزیر او د پراختیا د شورا مشر هم دی. د عمان د کابینې ډېر وزیران اباضي او د سلطنتي کورنۍ یا د پاچا د ملگرو له خپلوانو څخه دي. د دغه هېواد کابینه ۲۳ وزیران لري چې د هر وزیر واکونه او مسوولیتونه د پاچا لهخوا ټاکل کېږي.

د عمان ملي شورا دوې جرگې لري، لومړۍ مجلس الدوله چې ۵۹ غړي لري او له دې ډلې یې نهه ښځې د پاچا لهخوا ټاکل کیږي او پاچا او ولسي جرگې ته مشورې ورکوي. دویمه ولسي جرگه چې ۸۳ غړي لري، له دې ډلې یې دوې ښځې په ځانگړیو انتخاباتو کې ټاکل کیږي.

د عمان حقوقي نظام د اسلام او انگلستان پر قوانینو ولاړ دی. په دغه هېواد کې اسلامي قاضیان او نوې جوړې شوې مدني محکمې دواړه شته. په دغه هېواد کې غټ قاضیان د سلطان او د سیمه ییزو محکمو قاضیان د عدلیې او حج او اوقافو او اسلامي چارو د وزیر لهخوا ټاکل کیږي. د شریعت محکمه او ستره محکمه د عمان دوې لوړې محکمې دي. د شریعت محکمه د اسلامي قوانینو په چوکاټ کې د هېواد قضایي چارې پر مخ بیایي، که د پلازمېنې او سیمو محکمې د یوې دوسیې په اړه پرېکړه و نه شي کړی، سترې محکمې ته یې لېږي چې مرکز یې په مسقط کې دی.

په عمان کې محکمه درې پړاوه لري، ابتدایي، استیناف او په ستره محکمه کې یې د امنیت محکمه هم جوړه شوې چې د وسله وال پوځ د منسوبینو دوسیې څېړي.

د شلمې میلادي پېړۍ په لومړنیو لسیزو کې عمان د عربستان د ټاپووزمې یو بېوزله هېواد و. په ۱۹٦۸ ز کال کې د عمان پاچا سلطان سعید بن تیمور یو امریکایي پانگه وال د خپل اقتصادي مشاور په توگه وټاکه، د دغه هېواد د اقتصادي او ټولنیز پرمختگ لهپاره پنځه کلن پلان جوړ او د دغه هېواد پر پولي سیستم یې بیاکتنه وکړه.

کورنیو ستونزو او د عوایدو لږوالي د دې پلان عملي کېدلو ته ستونزې جوړولې. په ۱۹۷۰ ز کال کې سلطان قابوس د عمان مشر شو، ده دې تېلو ټول عواید پرمختایي پروژو ته ځانگړي کړل او هڅه یې وکړه چې کورني تولیدات د وارداتو ځای ونیسي.

د عمان اقتصادي پرمختگ په ۱۹۸۵ ز کال کې ډېر گړندی شو، خو په ۱۹۸٦ ز کال کې د تېلو د بیو ټیټېدو ډېرې پراختیایي پروژې ودرولې. د هېواد د ملي پیسو ارزښت ټیټ شو او د دغه هېواد چارواکي اړ شول چې پر تېلو خپله اتکا لږ کړي او د عوایدو نورې سرچینې ولټوي.

د عمان په دریېم پرمختایي پلان کې هڅه وشوه چې ښوونه او روزنه وده وکړي، روغتیایي اسانتیاوې ډېرې شي، لارې او بندرونه جوړ شي، ملي تولیدات ډېر شي، د تېلو چاڼځایونه او نللیکې پراختیا ومومي او خلکو ته برېښنا او گاز ورسول شي. په دریېم پلان کې غیر خاتیلي تولیدات زیات شول، دولت خلکو ته پورونه ورکړل چې کرنه ماشیني کړي، د کبانو د نیولو او پروسس وسایل واخلي، د سیلانیانو د استوگنې او تفریح لهپاره هوټلونه، رسټورانټونه او دوکانونه جوړ کړي او وړې فابریکې واخلي. په ۱۹۹۵ ز کال کې د عمان د غیر خالص کورني تولید کچه ۱۴ بلیون ډالرو ته رسیده او د سړي سرکلني عاید له پلوه پرمختلونکی هېواد و.

دغه هېواد هر ورځ ډېر تېل تولیدول، چین، جاپان، ټایلند او جنوبي کوریا ته صادرېدل. په عمان کې د سلطان قابوس د واکمنۍ په کلونو کې د سیمنټو د جوړولو، د تېلو د چاڼ، د مسو د ویلې کولو، المونیم، میتانول، داروگانو او کیمیاوي سرې سترې کارخونې جوړې شوې. سلطان په خپل هېواد کې څو صنعتي سیمې جوړې او کورنیو او بهرنیو پانگه والو ته یې ډېرې قانوني او اداري اسانتیاوې برابرې کړې.

که څه هم چې د عمان د کرنې وړ ځمکه محدوده ده، خو دولت هڅه کړې چې د اوبو د بندونو د جوړولو له لارې، کرنیزو ځمکو ته اوبه ورسوي او خپلو بزگرانو ته پورونه ورکړي چې له لږو ځمکو ډېر حاصلات واخلي.

دغه هېواد څو داسې بندرونه لري چې سترې سوداگریزې بېړۍ ورته راتلی شي. د عمان بندري تاسیسات خورا عصري شوي او د مالونو د واردولو او صادرولو لهپاره یې ډېرې اسانتیاوې برابرې کړې دي. عمان اوس اوس د آسیا د شتمنو هېوادونو په کتار کې ښه ځای لري او دولت او خصوصي سکټور د بهرنیو کمپنیو متخصصینو او فني کارگرانو په مرسته نوي بریالیتوبونه تر لاسه کړي.

د اومو تېلو ایستل او چاڼ، طبیعي گاز، اوبلن گاز، ساختماني مواد، سیمنټ، مس، اوسپنه، کیمیاوي مواد، نوري کېبل، د خوراکي موادو پروسس، گوگړ او لاسي صنعت د غه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.

د عمان دوه سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، پنځه سلنه خاوره یې څړځایونو او ۹۴ سلنه خاوره یې غرونو، بیدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د عمان ۱۳ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد یو سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

تنباکو، گنې، خرما، لیمو، کیله، ناریال، سابه، غوښه، لبنیات او هگۍ د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کیږي.

د عمان غټ تجارتي شریکان جاپان، چین، ټایلنډ، جنوبي کوریا، اسپانیا او عربي متحده امارات دي. دغه هېواد ۱۳۰ هوایي ډگرونه لري چې ۱۵ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۹٦۸ او د انټرنېټ کود یې بیا OM دی، چې ټولټال یې دوه میلیونه کسان ورته لاسرسی لري.

دغه هېواد یو دولتي ټلویزیون او ۱٦ راډیوگانې لري او اوس اوس یې خصوصي سکټور ته هم اجازه ورکړې چې په دې برخه کې پانگونه وکړي.

عمان د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د آسیا یو پرمختلونکی هېواد بلل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۵ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهیږي.

له تاریخي نښو نښانو څخه ښکاري چې له میلاد څخه ۱۰۰۰ کاله مخکې، یوه ډله خلک د عربستان د ټاپووزمې له جنوبي برخو د اوسني مسقط او عمان خاورې ته لېږدېدلي دي او هلته مېشت شوي. له میلاد څخه درې پېړۍ مخکې د ختېنو لوښو لیکنې وایي، چې د هغه وخت عمان له بین النهرین سره د راکړې ورکړې ځای و. عماني سمندري ملاحان به د هند په سمندر کې گرځېدل او د هند- چین او افریقا د سواحلو تر منځ یې سوداگري کوله.

له میلاد مخکې په پنځمه پېړۍ کې د عمان د اوسنۍ خاورې د عماني قبیلې خلکو هخامشیانو ته ماتې ورکړه او خپل هېواد یې خپلواک کړ. په شپږمه میلادي پېړۍ کې عمان ساساني ځواکونو ونیو، د عمان شمالي سیمې د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد ص په وخت کې د اسلامي خلافت په سیمه کې ورگډې شوې.

په ۱۹۵۱ ز کال کې د عمان او انگلستان تر منځ، د عمان د کورواکۍ تړون لاسلیک شو. په ۱۹۵۷ ز کال کې بیا اباضیانو بغاوت وکړ چې انگلسي الوتکو وځپل. د ۱۹۵۸ ز کال په ژمي کې بیا خلک پورته شول، دا ځلې عربي متحده جمهوریت د خپلواکۍ غوښتونکو مرسته کوله. په ۱۹٦٦ ز کال کې د ملگرو ملتونو عمومي ټولنې په عمان کې د انگلسانو چال چلند ناروا وباله او پرېکړه یې وکړه چې د عمان د تېلو زېرمې د دې هېواد په خلکو پورې اړه لري او هېڅوک یې بهرنیو کمپنیو ته د ورکولو حق نه لري.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت وایي، چې افغانستان او عمان استوگنې سیاسي اړیکې نه لري او په سعودي عربستان کې د افغانستان سفارت په مسقط کې د افغانستان چارې تر سره کوي.

له افغانستان څخه تر عمان پورې د هوا له لارې فاصله ۱۷۹۹ کیلومتره او همداراز د کابل او مسقط ښارونو تر مینځ د وخت توپیر ۳۰ دقیقې دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۳۰ |
| € | ۸۷ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۰,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# څنګه د بریا لپاره پروګرام جوړ کړو؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

که د ننني نړۍ لپاره یو نوم ټاکو، نو کولای شو د (د بریا نړۍ) ورته ووایو. ټول غواړي چې باید بریالي وي، خو کله کله بریا ته لاسرسی سخت وي.
رښتیا د بریالیو کسانو راز په څه کې دی؟ دلته به له تاسو سره هغه پټې خبرې شریکې کړو، چې که عمل پرې وکړی، ډېر ژر به تر بریا غېږ را چاپېر کړی.

**۱- له نورو سره د مشورې کولو په لټه کې اوسئ!**

د خلکو یوه ستونزه دا ده چې ځان ورته جامع الکمالات ښکاري او په هوښیارۍ کې یې پر ځان تمامه کړې وي. دوی وایي: زه په هر څه پوهېږم او بلد یم.
او بله تېروتنه چې خلک یې کوي، دا ده چې د باور وړ سلاکاران نه لري او که د باور وړ او متخصص سلاکار لري هم، خبرو ته یې غوږ نه ږدي.
رابرټ کیوساکي چې د اوسنۍ نړۍ یو بریالی کس دی، د بریا یو راز یې دا دی چې هغه د خپل باور وړ سلاکار خبرو ته چې شتمن پلار یې و، غوږ نیولی دی او له مشورو یې ګټه اخیستې ده.

**۲- چا چې له زده کړو لاس واخیست، ژوند یې بایلود**

بې ځایه وخت تېرول ډېر خطرناک کار دی. د ودې د کلونو په اوږدو کې باید پر زده کړو تمرکز وکړو. داسې زده کړه چې فکر کولو ته مو لېواله کړې او کله مو چې فکر کول زده کړل، نو هېڅکله باید دغه ورتیا له لاسه ور نه کړی. ګټوره زده کړه نه یوازې دا چې بریا ته مو رسوي، بلکې ځوانوي مو هم. تاسو کولای شی په ورځني ډول د خپلو زده کړو کچه د هغه څه په وسیله چې زده کوی یې زیاته کړی. له خپلو خپلوانو، ملګرو، دوستانو او مشتریانو څخه هم زده کړه وکړئ. دا به وړیا زده کړه وي، خو ډېره ګټوره ده.



**۳- تاسو چې هر ډول فکر کوئ، په حقه یاست**

وختونه کېږي چې دا تصور موجود دی چې ټولې بریاوې په اصل کې له ذهنه پیلېږي. په کلي ډول دغه موضوع اوس منل شوې ده، چې بریا او ماتې دواړه لومړی زموږ په ذهن کې جوړښت مومي، ان تر هغه مخکې چې پر واقعیت بدل شي.
افلاطون ویلي: «هر شی دوه ځله خلق کېږي. یو ځل په ذهن کې او بل ځل له ذهنه د باندې. نو د بریالي حرکت لپاره لومړی موخه باید دا وي چې له ذهني اړخه باید ورته د یوه بریالي حرکت په سترګه وکتل شي. هغه مسیر په خپل ذهن کې ترسیم کړئ. دغه کار به درته د مثبتې پایلې ضمانت وکړي».

**۴- پر پایلې ورکوونکو شیانو پانګونه وکړئ!**

غوره پانګونه دا ده چې لومړی پر خپل ځان پانګونه وکړئ. له ځان سره مینه وکړئ او د ښو لایق یې وګڼئ.
دویم؛ پر خپلو ملګرو او دوستانو باندې پانګونه وکړئ. داسې ملګري چې بریا ته په رسېدو کې پرې باور وکړی او زړه پرې وتړی.
ډېر پام وکړئ، د ځان لپار داسې ملګري مه غوره کوئ، چې پر کړه لار مو بوځي.

**۵- ماتې د دویم ځلي پیل لپاره ښه فرصت دی، دا ځل ښه په هوښیارۍ...**

په ماتې کې تر ټولو غوره ټکی دا دی چې دا ځل موږ تر لومړي ځل په خلاصو سترګو پرېکړه کوو او لوری ټاکو. له ماتې وروسته باید موږ تیار اوسو او د هغو درسونو له مخې حرکت وکړو، چې له ماتې څخه مو زده کړي دي.

**٦- کار باید په پوره مینه تر سره کړو**

که د یوه کار د تر سره کولو لپاره مینه او علاقه نه لرۍ، نو ښه ده چې خپله دنده بدله کړئ او د یوې نوې دندې په لټه کې شی. کېدای شي هره ورځ مو له لاسته راوړنو ډکه او بې عیبه نه وي، خو له کار سره مینه د دې لامل کېږي، چې کار درته ارزښتمن شي. له کار سره دې دا ډول مینې پیدا کول یا پیدا کېدل کېدای شي وخت ونیسي، خو د بریالیو کسانو درسونه موږ ته راښیي، چې دا کار پر جګړې او زحمت ارزي.

**۷- هر څه ممکن دي**

په دې نړۍ کې هر څه امکان لري.
نوښتګر اوسئ او له خپلې ودې ننګه وکړئ.
نیک اخلاق، نیک ګفتار او نیک رفتار مو باید د ژوند اصلي لومړیتوبونه وي.
که مو شوک تر لاس لاندې کار کوي، ښه چلند ور سره وکړئ، معاش او حق یې پر خپل وخت ورکړئ او له شخصي ودې سره یې مرسته وکړئ.

**۸- د غم او غوسې پر ځای خوښۍ او خوشالۍ وزېږوئ!**

ځینې کسان د ورځې په اوږدو او یا هم د ټول ژوند په اوږدو کې تولید لري، خو دغه تولید یې پوچې خبرې، منفي اوازې، ریاکاري او یا هم حسادت او کینه وي. دوی په دې کار سره په خپل چاپېریال کې یو غیر اخلاقي او وژونکی ویروس خپروي.
که غواړی په ټوله مانا یو بریالی انسان وی، نو هر ځای چې ګام ږدی، مینه وکرئ، خوښي او مثبته انرژي تولید کړئ.

**۹- په ستونزه او ملامتۍ پسې مه نښلئ، بلکې ستونزې ته د حل لار ولټوئ!**

پر ستونزو باندې تمرکز مه کوئ، بلکې د ستونزو د حل لټه وکړئ.
د خپلو تېروتنو په اړه نور ځورول او د ملامتیا ګوته ورته نیول اسانه کار دی، خو تر ټولو اسانه کار او هغه مهارت چې باید زده یې کړی، دا دی چې د خپلو ټولو کارونو مسوولیت پر خپله غاړه واخلئ. ان کېدای شي تر دې یو ګام نور هم مخکې لاړ شی او ستونزو ته د حل لار ولټوئ. دغه کار مو په ژوند کې بریا تضمینوي.

## اروپايي ټولنه: هڅه کوو چې د افغان سولې خبرې بیا پیل شي

د افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې ځانګړي استازي رولانډ کوبیا ویلي، دوی هڅه کوي چې د افغانستان د سولې خبرې بیا پیل شي.
کوبیا تېره ورځ په کابل کې خبریالانو ته ویلي، د سولې خبرو د بیا ځلي پیل پر مهال باید وضعیت او شرایطو ته په پام، ګام پورته شي.
د افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې دغه لوړپوړي ډیپلوماټ ویلي چې دا ځل اوربند له ټولو مهم او د سولې د خبرو د پرمختګ او پایلې لپاره اصل دی. هغه زیاته کړې: «اوربند کېدای شي، ځکه وړاندې هم دا تجربه شوې ده، چې وړاندې وشوه، ولې اوس نه شي کېدای؟ مذاکرات او خبرې د همدې لپاره کېږي چې اوربند وشي، اوربند ناممکن نه دی».
کوبیا دغه راز د سولې په خبرو کې د افغان حکومت په مالکیت ټینګار ته په اشارې ویلي چې دغه خبرې هغه مهال ښه پایله درلودای شي چې د افغانستان د حکومت ونډه پکې زیاته وي.
بل لور ته افغان حکومت هم ویلي چې سوله د دوی لومړیتوب دی او په دې برخه کې د دوی تګلاره روښانه ده.
د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویاندې ناجیې انوري ازادي راډیو ته ویلي، حکومت د سولې په اړه هلې ځلې هېڅ مهال نه دي درولې، خو د مذاکراتو د پیل لپاره اساسي شرط اوربند دی.
هغې ویلي: «د مذاکراتو د پیل لپاره شرط همدا دی چې تاوتریخوالی باید را کم او اوربند وشي، که چېرې داسې ونه شي، مذاکرات مانا نه لري، که چېرې د مذاکراتو پر مهال بیا تاوتریخوالی کېږي، خبرې مانا نه لري، له همدې کبله زموږ اساسي شرط اوربند او د تاوتریخوالي کمول دي».
اروپايي ټولنه داسې مهال د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو بیا پیلېدل غواړي چې د جمعې په ورځ د افغانستان د سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم وویل، له طالبانو سره سیاسي هوکړه د امریکا د ملي ګټو برخه ده.
خلیلزاد په خپل ټوېټ کې لیکلي وو چې افغانستان یوې سیاسي هوکړې ته اړتیا لري.
د یادونې ده چې د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې د سپټمبر په اوومه د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ لخوا د کابل په شش درک سیمه کې تر یوې چاودنې وروسته چې یو امریکایي سرتېری هم پکې ووژل شو، لغوه شوې.

## مبک: کانونو وزارت د لسګونو سپارښتنو په عملي کولو کې پاتې راغلی دی

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې د ګډې کمېټې (مبک چارواکو ویلي، دوی د کانونو او پټرولیم وزارت ته نږدې ۲۰۰ سپارښتنې کړې وې، خو د تېر یوه کال په موده کې یې یوازې ۳۰ سپارښتنې عملي کړې دي.
مبک په یوه تازه راپور کې ویلي چې د کانونو او پټرولیم وزارت د دوی د سپارښتنو په پلي کولو کې پاتې راغلی دی.
د دغې کمېټې د څېړنو آمر ادریس هاشمي ازادي راډیو ته ویلي چې د کانونو او پټرولیم وزارت باید د دوو کلونو په موده کې دوی ته وړاندې شوې ټولې سپارښتې په بشپړ ډول عملي کړې، څو په خبره یې په دغه وزارت کې د پام وړ اصلاحات رامنځته شي.
هاشمي زیاته کړې: «زموږ کوم راپور چې تېر کال خپور شو، ۱۹۱ سپارښتنې یې درلودې، چې زموږ د لومړي راپور تر خپرېدو وروسته ۲۷ سپارښتنې عملي شوې. دوهم راپور مو ښیي چې په ټوله کې ۳۰ سپارښتنې عملي شوې دي. زموږ غوښتنه دا ده چې ټولې سپارښتنې عملي شي».
د مبک کمېټې د موندنو له مخې، د روان کال د سپټمبر تر پایه، له ۱۹۱ سپارښتنو څخه ۳۰ یې په بشپړ ډول عملي شوې، ۴۸ یې په قسمي ډول پلي شوې، د ۹۱ سپارښتنو پلي کول ځنډول شوي او د ۲۲ په اړه یې هېڅ ځواب نه دی ورکړل شوی.
د کانونو او پټرولیم په وزارت کې د سپارښتنو د پلي کېدو د څرنګوالي په اړه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې د ګډې کمېټې دویم څېړنیز راپور چې تېره ورځ خپور شوی، ښیي چې د کانونو د تړونونو د ورکړې بهیر لا هم ډېر اوږد او پېچلی دی او د کانونو د کیندنې په لویو تړونونو کې د کادستر اداري سیستم نه پلي کېږي.
مبک دغه راز ویلي چې د کانونو تخنیکي کمېټه چې په قانون کې راغلې، لا نه ده جوړه شوې او دغې چارې بېلابېلو مداخلو ته زمینه مساعده کړې ده.
د مرکزي دولت او سیمه ییزو ادارو ترمنځ کمزورې اړیکې، د تولیداتو په هکله ناسم معلومات، د څېړونکو نامناسب چلند، د مالیې راټولول، کادستر، بشري سرچینې او د چاپېریال ساتنې په ملي اداره کې اصلاحات هغه سپارښتنې ښودل شوې چې هېڅ پام ورته نه دی شوی.
خو د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند سیحون کامګار بیا د مبک کمېټې لخوا وړاندې شوی راپور ناسم بللی او ویلي یې دي چې د دغه راپور په اړه له کانونو او پټرولیم وزارت سره هېڅ ډول همغږي نه ده شوې.
هغه ویلي: «موږ په اکتوبر میاشت کې چې کوم راپور دوی (مبک) ته وړاندې کړ، په هغه کې موږ د ۱۱٦ پلي شویو سپارښتنو په اړه ځواب ورکړ، دا شان ۵۱ د اجرا په حال کې دي، ۹ د نه پلي کېدو وړ دي. ۱۴ هغه سپارښتنې دي چې په وزارت پورې اړه نه لري، خو دوی وړاندې کړې، دوی په خپل وروستي راپور کې یوازې ۳۰ سپارښتنې عملي وبللې او نور یې نیمګړې وبللې».

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۲۹مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۱مه | ٤٤۸مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | ۲۵ | ۲۹ | ۲۵ | ۲۹ | ۲۷ |
| ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۳ | ۱٦ | ۱۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۰ | لمر ختل ۰٦:۰۲ | ماسپښين ۱۱:۳۹ | مازيګر ۰۲:٤۸ | ماښام ۰۵:۱٤ | ماخوستن ۰٦:۳۸

## نړۍ




## نبیل: «انستیتوت مؤثریت دولت‌ها» در انتخابات مداخله کرده‌است



رحمت‌الله نبیل، نامزد انتخابات ریاست جمهوری و رئیس پیشین امنیت ملی، «انستیتوت مؤثریت دولت‌ها» را که یک نهاد امریکایی است و در سال ۲۰۱۳ از سوی رئیس‌جمهور غنی ایجاد شده‌است، به مداخله در انتخابات ریاست‌جمهوری افغانستان متهم می‌سازد.

آقای نبیل در سلسه تویت‌هایی که کرده، این نهاد را هم‌چنان به پرداخت غیرقانونی پول به حلقهٔ داخلی در ارگ ریاست‌جمهوری و نزدیکان رئیس‌جمهور غنی متهم کرده‌است.

رحمت‌الله نبیل، نگاشته‌است که این انستیتوت با استفاده از دسترسی بی‌پیشینه‌اش به نهادهای گوناگون در ایالات متحده و دیگر حکومت‌ها و سازمان‌ها، به‌گونهٔ غیرقانونی برای اشرف غنی لابی‌گری کرده‌است.


نبیل، در یک نوشته‌اش در تویترش با گرفتن نام جان بس، سفیر امریکا در کابل، خواستار بررسی بی درنگ مداخلهٔ این نهاد در انتخابات ریاست‌جمهوری افغانستان شده‌است.

در عین حال گلبدین حکمتیار، نامزد دیگر انتخابات ریاست‌جمهوری دریافت حقوق از سوی سرپرست وزارت مالیه را از این نهاد انتقاد کرده اند و گفته است: «آقای قیومی و معامله‌اش با رئیس‌جمهور، به نظر من، حکومت و معامله‌اش با مردم، با امانت‌های مردم و سرمایه‌های ملی، دقیقاً مانند این می‌شمارم که یک دسته از دزدها، دزدان مسلح، بی رحم و خدا ناترس برای یک قریه‌یی در دامنهٔ یک کوه مسلح می‌شود که فریاد احالی قریه را هم هیچ کسی نمی‌شنود».

در همین حال، سفیر اتحادیهٔ اروپا در کابل دربارهٔ دریافت حقوق دالری نامزد وزیر مالیه از انستیتوت مؤثریت دولت‌ها را می‌گوید که اتحادیهٔ اروپا موضع گیری نیرومندی برای مبارزه با تخصیص نادرست پول در هر بخشی که باشد، دارد.

با این همه، تیم انتخاباتی محمد اشرف غنی، اتهام‌ها را دربارهٔ مداخله انستیتوت مؤثریت دولت‌ها در انتخابات رد می‌کند.

## راپورونه: د لیبیا ساحلي ګارد په مدیترانې سمندرګي کې ۱۴۸ کډوال ژغورلي دي



د راپورونو له مخې، د لیبیا ساحلي ګارد په مدیترانې سمندرګي کې لسګونه کډوال ژغورلي دي.

د لیبین ایکسپرېس د راپور له مخې، د لیبیا ساحلي ګارد د دغه هېواد په اوبو کې هغه ۱۴۸ کډوال له ډوبېدو ژغورلي، چې غوښتل يې په ناقانونه توګه اروپا ته لاړ شي.

په ورته وخت کې د لیبیا ساحلي ځواک په خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې دغه کډوال په دريو بېلابېلو عملیاتو کې هغه مهال ژغورل شوي، کله چې په اوبو کې د ډوبېدو له ګواښ سره مخ وو.

په اعلامیه کې دغه راز راغلي چې په دغو کډوالو کې ښځې او ماشومان هم شته چې ټول د مراکش، الجزاير، مصر، سومالیې او نورو افریقايي هېوادونو اوسېدونکي دي. د يادونې ده چې د مدیترانې سمندرګی اروپا ته د ناقانونه کډوالو د ورتلو تر ټوله مرګوني لار ده، چې زرګونو کسانو پکې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

تر دې وړاندې هم تېره میاشت په ملګرو ملتونو کې د کډوالو کمیسارۍ راپور ورکړ چې په مدیترانې سمندرګي کې د يوې بېړۍ د ډوبېدو په پېښه کې ۵۰ تنه مړه شوي وو.

د یادې کمیسارۍ د راپورونو له مخې، یوازې تېر میلادي کال په دغه سمندرګي ناقانونه کډوالو چې غوښتل يې ځانونه اروپا ته ورسوي، خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

## پنټاګون: له سوريې د امريکايي ځواکونو زياته برخه به عراق ته ولېږل شي



د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون ویلي، له سوريې څخه شاوخوا زر ایستل کېدونکي امریکايي پوځیان به تر ډېره ښايي د عراق په لوېديځ کې ځای پر ځای کړي، چې د اسلامي دولت یا داعش سخت دریځې ډلې پر ضد پر جګړه تمرکز وکړي.

د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر په یوه پوځي الوتکه کې چې منځنۍ ختیځ ته روانه وه؛ ویلي، د سوريې له شماله د خپلو ځواکونو د ایستلو سرعت يې د ورځو خبره نه ده، بلکې د اونیو ده.

ده زیاته کړې، د عراق په ختیځ کې به امریکايي پوځیان دوې لويې موخې ولري چې یو د عراق له دفاع سره مرسته ده او دویم د داعش پر ضد مبارزه ده.

دا په داسې حال کې ده چې وروسته له هغې چې د ترکيې ولسمشر رجب طیب اردوغان د سوريې په شمال کې د کردانو پر ضد د پوځي عملیاتو د پیل اعلان وکړ، ورسره سم د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم اعلان وکړ چې د سوريې له شماله به خپل ټول پوځیان وباسي.

که څه هم ټرمپ هغه مهال ویلي وو چې دغه پوځیان به امریکا ته بېرته راستانه کړي، خو اوسمهال داسې ښکاري چې په امریکا کې فشارونو ټرمپ دې ته اړ کړی چې یوه زیاته برخه پوځیان د امریکا پر ځای عراق ته ولېږي او ښايي په راتلونکي کې د ممکنه ګواښونو لپاره تړې ګټه واخلي.

## ژوند

## مېرمنې له زېږون وروسته کوم خواړه وخوري؟




غذايي رژیم د نویو زېږوونکو مېرمنو او نوي زېږېدلي ماشوم پر روغتیا مستقیمه اغېزه کوي. د حمل پر مهال هم مېرمنې نه یوازې د خپل ځان، بلکې د خپل جنین د اړتیاوو د پوره کولو مسوولیت پر غاړه لري، خو له زېږون وروسته دغه څه بېخي په دوی پورې اړوندېږي، څو د ځان او خپل ماشوم دواړو خیال وساتي.

دا چې میندې خپل ماشوم ته شیدې ورکوي، نو اړتیا ده چې حساسیتونو ته په پام سره خپل غذايي رژیم برابر کړي. دې ته هم باید پام وشي، چې کوم خواړه د زېږون په وخت او کوم خواړه له زېږون ورسته د دواړو په ګټه دي.

نوې زېږوونکې مېرمنې دې هڅه وکړي چې پروټین، مېوې، سبزۍ او غلې-دانې په خپل غذايي رژیم کې ور زیات کړي. دا چې اوس مور مجبوره ده خپل ماشوم ته شیدې ورکړي؛ نو د لبنیاتو، په ځانګړې ډول شیدو خوړل دې نه هېروي. دا هم ښکاره ده چې په دې وخت کې د غوړو غذاګانو خوړل په هېڅ ډول د توجیه وړ نه دي، نو میندې دې ترې په جدي توګه ډډه وکړي.

## د ځان قدر او ارزښت وپېژنئ!



خپلو پښو ته مو وګورئ، ایا حاضر یاست چې د يو میلیون ډالرو په بدل کې خپلې پښې يو چاته ورکړئ؟ زه خو وایم په هېڅ صورت به دا کار ونه کړئ. کلونه مخکې په بهر کې په یوه پېښه کې د یوه کس لاس ټپي شو او بالاخره پرې شو. محکمې پرېکړه وکړه چې دې کس ته باید د غړو د نقص په بدل کې یوولس میلیونه ډالره ورکړل شي. خپلو لاسونو ته مو وګورئ. دا هم یوولس میلیونه ډالره بیه لري. په یوه بل ښار کې یوه ښځه چې په ملي بس کې سپره وه، ملي بس ترافیکي پېښه وکړه او د ښځې ملا ستونزه پیدا کړه. داسې چې نوره له کار کولو ولوېده. ټرانسپورټي شرکت ښځې ته د جریمې په ډول شل میلیون ډالر ورکړل. اوس مو د خپل بدن غړو ته هم پام وکړئ. یوازې په دې دوو برخو کې تاسې څو میلیون ډالر بیه لرئ؟ اوس مو د ځان په اړه یو څه ښه احساس ونه کړ؟ ډېر کله موږ یوازې نور ښه بولو او ځان راته بې ارزښته ښکاري. خدای پاک وايي، د درکړل شوو نعمتونو شکر اداء کړئ او خپل ځان هم وهڅوئ. تاسې تر نورو ځانګړي او غوره یاست.